پـه ساده
ژبه لنډیز


# د ویکټوریا د ماشومانو د خوندیتوب معیارونه

## ۱




ستاسو اداره د اسټرالیا د اصلي اوسیدونکو د ماشومانو هرکلی کوي. تاسو د دوی ملاتړ کوئ چې خپل کلتور څرګند کړي او له خپلو حقونو څخه خوند واخلي. تاسو نژادپرستي ته اجازه نه ورکوئ.

## ۲



ستاسو د سازمان په ټولو کچو کې د ماشومانو خوندیتوب د هرچا لپاره مهم دی. تاسو مستند کوئ چې تاسو څنګه د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې یا زیان خطرونه وموموئ، مخنیوی یې وکړئ او ویې دروئ.

## ۳




ستاسو اداره د ماشومانو سره مرسته کوي ترڅو په خپلو حقوقو پوه وي تر څو د ناوړه ګټه اخیستنې څخه خوندي وي، معلومات ولري او ښکیل وي. تاسو هغوی سره مرسته کوی چې په ښکاره ډول خبرې وکړي او په هغو پریکړو کې برخه واخلي چې دوی اغیزمنوي.

## ۴



ستاسو اداره کورنیو او ټولنې ته ستاسو د کارونو په اړه او دا چې تاسې څرنګه ماشومانو د زیان او ناوړه ګټه اخیستنې څخه ساتی په اړه معلومات ورکوي. تاسو کورنیو سره مرسته کوئ چې خپل نظر څرګند کړي او په هغو پریکړو کې برخه واخلي چې د دوی په ماشوم اغیزه لري.

## ۵



ستاسو اداره پوهیږي چې هر ماشوم مختلف دی او مختلفې اړتیاوې لري. تاسو ډاډ ترلاسه کوئ چې دوی هغه معلومات او مرسته ترلاسه کولی شي چې دوی ورته اړتیا لري.

## ۶



کارکوونکي په دې پوهیږي چې دوی باید څه وکړي ترڅو ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي وساتي. د ماشومانو د خوندیتوب په اړه معلومات ثبتوي، راپور ورکوي او شریکوي یې کله چې دوی باید دا کار ترسره کړي. هغه کارکوونکي چې د ماشومانو سره کار کوي د اړتیا وړ د هغوی د تاریخچې په هکله معلومات ترسره سره شوي دي.

## ۷



ماشومان او د هغوی کورنۍ پوهیږي چې څنګه شکایت وکړي او کله چې شکایت وشي نو څه پیښیږي. ستاسو کارمندان پوهیږي چې څنګه شکایتونو ته په سمه توګه ځواب ووایی.

## ۸




ستاسو اداره خپلو کارکوونکو ته روزنه او ملاتړ ورکوي ترڅو ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي وساتي. ستاسو کارکوونکي د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان نښې نښانې پیژني او که چیرې د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان ستونزې شتون ولري نو په دې پوهیږي چې څه باید وکړي.

## ۹



ستاسو اداره ددې ډاډ ترلاسه کوي چې ماشومان ستاسو د خدماتو، ترتیباتو او فعالیتونو څخه د ګټې اخیستنې پر مهال خوندي دي. کله چې ماشومان آنلاین وي دا هم پکښې شامل دي.

## ۱۰



ستاسو اداره هغه لارې چارې ګوري او ښې کوي یې چې تاسو ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي ساتئ.

## ۱۱




ستاسو سازمان د دې په اړه پالیسیانې لیکلې دي چې تاسو څرنګه ماشومان د ناوړه ګټه اخیستنې او زیان څخه خوندي ساتئ. په آسانۍ پرې پوهیدلی شي، او ټول کارکوونکي یې تعقیبوي.

د نورو معلوماتو لپاره، د ماشومانو او ځوانانو د کمیسیون سره اړیکه ونیسئ

COMMISSION FOR CHILDREN AND YOUNG PEOPLE

www.ccyp.vic.gov.au